له مسلمان څخه چې کله په قبر کې د شهادت د کلمې پوښتنه وشي هغه به وايي چې: أشهدُ أن لاَ إِلَهَ إِلَّا اللَّهُ وَأَنَّ مُحَمَّدًا رَسُولُ اللَّهِ

له البراء بن عازب رضي الله عنه څخه روايت دی چې رسول الله صلى الله عليه وسلم فرمايلي: له مسلمان څخه چې کله په قبر کې د شهادت د کلمې پوښتنه وشي هغه به وايي چې: أشهدُ أن لاَ إِلَهَ إِلَّا اللَّهُ وَأَنَّ مُحَمَّدًا رَسُولُ اللَّهِ» نو دا د الله تعالى د همدې وينا مصداق دی چې فرمايي: {يُثَبِّتُ اللَّهُ الَّذِينَ آمَنُوا بِالقَوْلِ الثَّابِتِ فِي الحَيَاةِ الدُّنْيَا وَفِي الآخِرَةِ} [إبراهيم: 27]. کلکوي (مضبوطوي په صحيح جواب ورکولو سره) الله تعالى مؤمنانو لره په مضبوطه وينا (کلمه د حق) باندې په دنيوی ژوند او آخرت کې.

[صحيح دی] [متفق عليه دی]

له مسلمان څخه په قبر کې پوښتنه کيږي، دوه ملايکې ترې پوښتنه کوي چې منکر او نکير نوميږي او دا نومونه يې په ډيرو حديثونو کې راغلي او دوی ته همدا دنده ورسپارل شوې. نو ګواهي به ورکوي پر دې چې له الله پرته بل برحق معبود نشته او دا چې محمد د الله رسول دی. رسول الله صلى الله عليه وسلم فرمايلي، همدا هغه ثابته وينا ده چې الله تعالى يې په اړه فرمايلي: {يُثَبِّتُ اللَّهُ الَّذِينَ آمَنُوا بِالْقَوْلِ الثَّابِتِ فِي الْحَيَاةِ الدُّنْيَا وَفِي الْآخِرَةِ} [إبراهيم: 27]. کلکوي (مضبوطوي په صحيح جواب ورکولو سره) الله تعالى مؤمنانو لره په مضبوطه وينا (کلمې د حق) باندې په دنيوی ژوند او آخرت کې.

http://www.sunnah.global/hadeeth/ps/show/4206